آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۳/۲۳

# د رڼا څرک وینمه

لکه یو مات قهرمان

داسې ملا ماتی زه یم

شا ته د لمر د پرېوتو منظره

مخکې د لمر د را ختو څرک نه شته

نه وړاندې وروسته څه امید څه هیله

هر خوا تیارې خورې دي

خو دې تیارو کې هم امید لرمه

او ما د خپل ذهن نمجنه کرونده کې

او د زړه بڼ کې مې

کوم وخت کرلې د رڼا زړي دي

اوس هم د ستنې له واړه سورې نه

د رڼا څرک وینمه

۲۰۱۴/۰۹/۱۱
هیدرسلیف
ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ